مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

# دهرات دامنيتي ديالوګ دپردې ترشا| غوث جانباز

څو ورځې مخکې (دروان کال دوامبر له ۲۷ څخه تر ۲۸ پوري) دتاجکستان په بلازمینه دوشنبې کې دتل په څېر دګنو بهر میشتو افغانانو او دځینو خارجي کړیو داستازو په ګډون د"هرات دامنيتي خبرو اترو" تر عنوان لاندی یوه غونډه جوړه شوه. په غونډه کې په ټولیز ډول تر سلو زیاتو کسانو برخه اخیستې وه. بیدارو ناظرینو ددې غونډې ځنې ځانګړیو اړخونو ته په لاندې ډول کتلي: ددوشنبې دغونډې اساسي سمبالوونکي او تمویل کوونکي څوک دي؟

– داستراتیژیکو څېړنو انستیتیوټ (ددوشنبې دغونډې اصلي سمبالوونکی) د ۲۰۲۱ کال په اګست کې دجمهوري نظام له ړنګیدو دمخه، دهغه وخت دافغان حکومت دجوړښتونو تر لارښوونی لاندې فعالیت کاوه (که څه هم هغه وخت ځینې منتقدینو ویل: "انستیتیوټ له ځینو بهرنیو سرچینو څخه سخاوتمندانه مالي او وړیا مرستې ترلاسه کوي...")

**انستیتوت افغانی دی که برتانوي؟**

دجمهوري نظام له ړنګیدو وروسته، "انستیتیوت" سمدستي لندن (بریتانیا) ته دخپل رسمي مشر داوود مرادیان داستوګنې ځای ته کوچ وکړ.

– په لندن کې، "انستیتیوټ" دساکیس په پوهنتون کې دغیرانتفاعي سازمانونو په لړۍ کې دبریتانیا له قانون سره سم، د همدې پوهنتون په لوژستیکي، اکادمیک او فکري ملاتړ راجستر شوی. "انستیتیوټ" مالي مرستې دResearch England او دیموکراسۍ لپاره له ملي فنډ (صندوق) څخه تر لاسه کوي.

– اوسنيو رامنځ ته شويو شرايطو ته په کتو "انستیتوت" له افغانستان سره حقوقي او فزيکي پریکون کړی، څکه خو دا پوښتنه راپورته کیږي چې آیا "انستیتیوټ" دیوې بهرنۍ حقوقي مؤسسې په توګه، د"هرات امنيتي ډيالوګ" په نوم دغونډو/کنفرانسونو د جوړولو حق لري؟

**په غونډه کی کومو کسانو ګډون درلود؟**

ناظرینو ددوشنبې په غونډه کې يوې ځانګړې او ظاهرآ متضادی پدیدې، يعنی دانګلیسانو، ایرانیانو او هندیانو ګډ حضور ته هم پام کړی. له بلې خوا په غونډه کې دهغو کسانو شمیر چې قومي، افراطي نظرونه لري، په افغانستان کې مذهبي او توکمیزو تضادونو ته لمن وهي او آن دهیواد دویش غږونه جګوي، هم خورا ډیر و.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ